# بادام: لويديځګل ډوله چينجي په بوزغلي کې

ټيلفون: 977-758-0799 برېښناليك: javid.hamidzada@rootsofpeace.org



## د حشرې تشريح

د لويديځګل ډوله بالغ چينجي وړې حشرې دي چې تقريباً ۰.۷۶۲ ملي متره اوږدوالی، دوه جوړه ځرمن ډوله وزرونه لري. بالغ چينجی درې ډوله رنګ لري چې د کال په اوږدو کې توپير کوي. سپيره ډول يې چې سپين او ژيړ چې نصواري بخونتهټکي يلټاپې ټکيدې په سر کې لري، منځنی رنګ يې د نارنجې ټيټر او نصواريګيډې په واسطه جوړېږي اوټينګ نصواري شکل يې. منځنی شکل يې د کال په اوږدو کې موجود وي، خو په پسرلي کېټينګ رنګ متبارز وي په داسي حال کې چې خړ يا سپيره رنګ يې د کال په نورو موسمونو کې متبارز وي.

لومړنی موري مرحله کې خړ يا روښانه ژيړ وي، وروسته د لومړني کريز څخه په زرين ژيړ بدلېږي. موري مرحله يې د ۵ څخه تر ۲۰ ورځو پورې دوام کوي.

## ورانی

ټګل ډوله چينجي لاروا د ځوکو په غونچو کې ځای نيسي او تغذيه ترې کوي، معمولاً د نويو راوتلو پاڼو لاندي. د دوي تغذيه ددې سبب کيږي چې د نيالګي دښاخونو د ځوکو وده ودرېږي. کله چې د ځوکې وده ودرېږي نو د څنګ نيښونه وده کوي، په پايله کې ځو څانګيزه او بې ډوله ونه منځ ته راځي چې دا پخپله د بڼ ارزښت راټيټوي.

## کنټرول

د لويديځګل ډوله چينجی د ژمي په اوږدو کې په بيکاره بوټو، وښو، شپشتو (رشقه) او نورو کوربه بوټو کې يا د بوزغلي په غولي کې او يا هم پڅاونديو کروندو کې په بالغ شکل يې بدلېږي. د پسرلي په سر کې، چينجي معمولاًګل لرونکو ونو او بوټو ته مهاجرت کوي اود کوربه نبات په تنکيو برخو کې (مثلاً، نوې راوتلو څانګې، غوټۍ او ټګل په برخو کې) هګۍ اچوي.

**دوديز کنټرول:** د غلي حاصلات يا بيکاره بوټي د ونو ټګل پرمهال د ونو يا نيالګيو په منځ کې مه انباروئ، ځکه چينجي د بيکاره وښو څخه ونو ته ځي. مخکي له دې چې بيکاره بوټو پيدا شي د بوزغلي ټګاوند ځمکهښه يوې کړئ. د امکان په صورت کې د بوزغلي پڅاوندی کرونده کې د غنمو يا نورو غلو د کرلو څخه ډډه وکړئ.

### د حشراتو ضد درمل

کله مو چې د لومړي ځل لپاره چينجي د څانګو په ځوکو کې وليدل نو د حشراتو ضد درمل تطبيق کړئ. کله مو چې بيا وليدل نو بيا يې تطبيق کړئ. د حشراتو ضددرمل ته په هر وار کې تغير ورکړئ ترڅو د حشراتو ضد درمل په مقابل کې د مقاومت د رامنځ ته کيدو مخنيوی وشي. د توليدوونکو کمپنيو لارښوونې هرکله تعقيب کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| **(SPINOSAD) سپينوساډ** | | | |
| (Entrust)# انټرست | ۲۰.۲۳-۲۹.۵۴ ملي‌ليټر\هيکټار | 0.43–0.6 oz | ۱۴ |
| (Success)سك سسس | ۷۱-۹۵.۵ ملي‌ليټر\هيکټار | اونس 1.5–2 | ۱ |
| **احتياط:** د سك سس د تطبيق اندازه د ۳۴۷۲. ليټر\هيکټار\کال څخه او د انټرست د تطبيق اندازه د ۱۰۷۶. ليټر\هکټار\کال څخه مه ډيروئ. د مختلفو درملو د استعمال په واسطه د مقاومت د رامنځ ته کيدو مخنيوی وکړئ. کيداي شي چې د يو بل ممد درمل په واسطه کنټرول شي. | | | |
| **METHOMYL* ميتومايل** | | | |
| (Lannate) 90SP لننټ ۹۰ س پ | ۹۱.۷۸-۱۸۳.۵۶ګرامه\هکټار | — | ۱ |
| **احتياط:** تر ۷۲ ساعتونو پورې بايد بوزغلي ته ننوتل منع شي. | | | |
| **(FORMETANATE HYDROCHLORIDE) فورمټانټ هايډروکلوراېډ** | | | |
| (Carzol) 92SP کارزول ۹۲ سپ | ۱۸۳.۵۶ګرامه \هکټار | ۰.۵ پاوه | |

د جان ډرايور، کورکی لوين او مارك يه واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، د نړوالی د پرمختيا پروګرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل‌ټيلفون 794677212 (0) 93+،
zach@rootsofpeace.org
ددې خپرونې د محتوي مسؤليت په بشپړه توګه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر څرګندويه نه ده.

د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي‌ټول حقوق خوندي دي.

د ديرو معلوماتو لپاره د: www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu مراجعه وشي